لیکوالکی: ما نلیوودینوسی(**Manlio Dinucci**) .

منبع او خپرېدو نېټه : ګلوبال ریسرچ « 27-06-2018» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---------------------------------------------------------------

# نوی ښکیلاک اودکډوالو بحران

## *Neocolonialism and the migrant crisis*



دمتحده ایالاتو څخه اروپا ته د(کډوالی بحران) دداخلی اود نړیوالو شخړو له امله کوم چي دکډوالی داوسنی جریان په مورد کی دیو کامل پالیسی په غوره کولو کی دسیاستوالو په مینځ کی مشاجره اواختلافات رامینځته کړی ضرور بریښی چي په دی مورد کی دغه سیاستوال یوی پریکړی ته چی دهغه نیاز لید ل کیږی ورسیږ ی . په هر صورت دغه خوزښتونه او غورځنګونه یو ډول کلیشی یا ساده برخورد یا مخا مخ کیدو ته پاتی کیږی چی دواقیعتونوسره په تکراوپه اختلاف کی راځی یعنی غنی اویا بډاهیوادونه چی دغریب یا دنادارو هیوادونو د مها جرت دا وسنی جریا ن د فشار دراتیټولو اود مینځه وړلو دندی لری هغه نه ترسره کوی او په واقیعت کی د دغه بد مرغی اصلی دلیل دعامه خلکو له نظره خوندی او پټ سا تی اوهغه داچی د نړی په دی موجوده ا قتصا دی سیستم کی دغه یو محدود اقلیت داسی ځواکمن کړی دي چی داکثریت مخکی په وده ثروت اوشتمنی خپل ځا نته زیرمه کړی اویا د ثروت خا وندان شی ا و له دی نه چی د فقر زدایی مخه ونیسی لاپسی د فقیرو هیوادونو نادار خلک اجبا ری مهاجرت ته مجبوروی .

له مکزیک څخه امریکی ته دکډوالی د جریا ن نګرا نی اوس تقریباً سمبولیک شوی دی یا دنمونی په توګه اغوښتی دی –دیاده باید ونه ایستل شی اوهغه داچی دمکزیک کرهنیز یا زراعتی پیداوار هغه وخت د سقوط سره مخا مخ شو کله چی دشما لی امریکا دآزاد تجارت تړون (North America free trade agreement) لاس لیک شو . چی امریکا اوکا نا دا مکسیکو ته د خپل عمومی سبسا یډی (مرسته کول ) په ورکولو سره

د مکسیکو بازارونه د خپل ارزان قیمت زراعتی پیدارو په عرضه کولو سره تر خپل کنترول لاندی راوړل چې دهغه په نتیجه کي دمکسیکو په زرګونو بزګران خپل د ندی او شغل دلاسه ورکړل اوداهغه وخت وه چې د **ما کییولادو راس** (Maquiladoras = دمکسیکو په دننه کې یو لوی شرکت یا فابریکه دی چې دخارجي پانګوالو اویا دشرکتونو په ګډه پانګي سره جوړ شوی دی ) کارخانی پواسطه سره دکار نوی کا رخا نی یا په زرګونو صنعتی موسسسی دمکزیک په دننه دهغه هیواد د پولو په امتداد کی را مینځته شو چې په دغه نوی پرانیستل شوی کارخا نو کی مکسیکویی کا رګران په ډیرو لږ دستمزد سره دامریکایی شرکتونو له خوا په کار ګمارېدل اوداځکه چې دغه ټول نوی صنعتی موسسی دامریکا یی غټو شرکتونو په واک کی وه .

په یو هیواد لکه مکسیکو کوم چې دهغه دنفوس نیما یی برخه په فقر اونادارۍ سره ژوند تیروی نو هغوی ددی دپاره چې دلوږی او تنګد ستی څخه ژوند دلاسه ور نکړی نو د مجبوریت له مخی د مکزیک څخه غواړی چې امریکی ته واوړی نودهمدی موضوع په نظرکی نیولو سره دا مریکی د متحده ایالاتو دموکرات جمهور ریس **بل کلنتون** دامریکی اود مکسیکو د پولو په امتداد کی په کا ل (۱۹۹۴) کی د یو دیوال ددرولو خبره راپورته کړ اوداهغه وخت وه چې دا مریکی د متحده ایالاتو دآزاد تجارت (NAFTA) تړون خپل اغیزی اچولی وه جمهور ریس **بوش** د**کلنتون** دغه نوښت تعقیب کړ او **بارک «اوباما»** دموکرات جمهور ریس ددغه د یوال د جوړولو موضوع څخه ملاتړ او ا وسنی جمهور ریس دونالد ترومپ هیله لری چې دغه تر ( 3000) کلیلومتر واټن دیوال ودروی چې دهغه له امله دامریکی اودمکسیکوپه رسمي پولو باندی واوړی .

## اقتصادی رکود اودنړیوالی نوی نظم دشلم پیړی په وروستیو کي :

داروپا په لورد مهاجرت د بهیرپه اړه اند یښنی اونګرانی اودا فریقی دوچې موضوع اوس د یو سمبولیک قضیې په بڼه را ښکا ری یا سمبولیک شوی اوهغه داچي دافریقی وچه داومه موادو لکه ( طلاُ، پلاتین ، ا لما س ، اورانیوم ، کلتا ن«تا نتا لیت» ، مس ، نفت ، طبعی ګاز ، قیمتی ځنګلونه ، کوکو، کافی) اونوروموادو یو شتمن وچه یا قاره دی دغه شتمن زیرمی اومنابع کوم چې په تیرو زمانوکی داروپایی زوړښکیلاکګرو د **برده داری** دروشونو په پلی کولو سره تر لاسه کو ل ، نن همدغه زیرمی دنوی ښکیلاک یا داروپا دنوی ښکیلاک ګرانو اوپه قدرت کی دافریقایی نخبګا نو په شریک کولو سره تر لاسه کیږی اوهغه داچې ددی وچې بازارونه د ارزان بشری قواو په تر لاسه کولو څه په داخلی اویا څه په بین المللی بنی سره تر کنترول لاندی نیول کیږی یا نیول شوی دی.

نن له سلوشرکتونو څخه لا زیات کوم چې دغه شرکتونو د لندن اود نورو د بها دار اسهاموپه لست کی شامل دی تقریباُ د ا فریقی د لوی صحرا دجنوب له (37 ) هیوادونو څخه د (1000) ملیارد دالر په ارزښت سره بهره برداری صورت نیسی یعنی چې دغه

هیوادونو دافریقی دشتمنی څخه تر زر ملیا رد دالر سود اوګټی تر لاسه کوی.
یواځی فرانسه د خپل پولی سیستم په رنبا خپل (۱۴) افریقایی مستعمراتو څخه دفرانک دچلش له امله چی د هغه مخفف (colonies Franciases de Africa=CFA) چی په اوسنی حالت کی د (communaute Franciere Africa) په نوم سره نومولی شوی دی نظارت اوکنترول کوی اوهغه داچی د (یو ایرو Euro ) سره دبرابری اود موازنی دساتلو دپا ره د (۱۴) افریقا یی هیوادونه مجبور او مکلف دی چی د فرا نسی د خزانی نیمیایی کسرات پوره او بشپړ کړی .
د لیبیا دولت چی دخپلواک ویا دآزاد افریقای کرنسی یا پیسو هڅه یی وکړ د(2011) کال دجګړی په پایله کی له مینځه ویوړل شو.
**د ایبوری کوست** (Ivory Coast) یعنی د (CFA په سیمه کی ) فرانسوی شرکتونه دکوکو سوداګریزه کولو اودهغه دکنترول څخه زیات حاصلات ترلاسه کوی چی هیواد یی دنړی تر ټولو لوړ تولیدکونکی هیواد ګڼل کیږی اومتبا قی (۵) سلنه تولید ات دوړو شرکتونو تر نظارت لاندی تولید کوی چی هغوی په ډیر فقر اوناداری سره خپل ژوند سمبا لوی دا یواځی دبشکیلا ک څو رغنده نمونی وه چي یورته مو ذ کر کړ .
نن په واقیعت کی افریقا دخارجی مرستو په وابستګی کی سره یادیږی اوهغه داچی خارجی هیوادونه هرکال تقریباً (۵۸) ملیارد دالر افریقی ته لیږدوی چی دهغه عواقب ورانونکی دي – دافریقی د لوی صحرا دجنوبی برخی پروت هیوادونه یعنی هغه ځای چی دوګړو شمیر یی له (یو ملیارد) نفرو څخه زیا ت دی نو د هغه ټولنی (۶۰) سلنه کوچنیان اونوی ځوانان چی دهغوی عمر له (0 - 24) کلنی پوری رسی نودهغو (۲/۳) برخه په ناداری اوپه بیوزلی سره ژوند تیروی اودهغوی په مینځ کی (۴۰) سلنه یعنی (۴۰۰) میلیون نفر د شد ید فقر شپی اوورځی سبا کوی .
**نو په پای کی ویلی شو چی دکدوالی بحران په واقیعت کی داقتصادی ،اجتماعی سیستم بی ثبا تی دی .**

**------------------------------------ په درنا وی «2018-06-30»**